# Family Resource Centers



**د پلارولۍ او مورولۍ، ملاتړو ډلو او ارزونې خدمتونه، معلومات او د راجع کولو خدمات وړاندې کوي.**



Family Resource Centers

**www.frcma.org**

FRC-PAS 4/24



## يا ستاسې ماشوم:

- په کور کې جدي ستونزې لري؟
- په متواتر ډول غير حاضري کوي يا په ښوونځي کې جدي ستونزې لري؟
- له کوره تښتي يا ناسمه ګټه ترې پورته کېږي؟

## د (کورنۍ سرچينې مرکزونه) مرسته درسره کولی شي.

د کورنۍ سرچينې د مرکزونو خدمات رضاکار، محرم، د ټولنې پر بنسټ دي او داسې ترتيب شوي چې ستاسې د کورنۍ اړتياوې پوره کړي.

د کورنۍ سرچينې د مرکزونو خدمات آسانه دي او ځينې يې د ماښام لخوا او د اوونۍ په پای کې هم وړاندې کېږي.



# د کورنۍ سرچينې مرکز څه شی دی؟

د کورنۍ سرچينې مرکزونه له کورنيو او افرادو سره مرسته کوي چې خپلې ننګونې حل کړي، اړيکې پياوړې کړي، له نورو سره په تماس کې شي، او په خپلو ټولنو کې ښکېل شي. د مساچوسيټس په ۱۴ ناحيو کې د کورنۍ سرچينې مرکزونه شته.

# د کورنۍ سرچينې مرکز څه کار کوي؟

د کورنۍ سرچينې مرکزونه هغو کورنيو ته چې تر ۱۸ کلنو د لږ عمر لرونکي ماشومان لري د پلارولۍ-مورولۍ، د ملاتړو ډلې، معلوماتو، د راجع کولو د سرچينو، د ارزونې د خدمتونو، د ماشومتوب د لومړنيو وختونو د خدماتو او زدکړو پروګرامونه وړاندې کوي.

د کورنۍ سرچينې مرکزونه دغه راز د هغو کورنيو لپاره چې ماشومان يې په متواتر ډول غيرحاظري کوي يا په ښوونځي کې جدي ستونزې لري، په کور کې جدي ستونزې لري، له کوره تښتېدلي وي يا ناسمه ګټه ترې پورته کېږي، ځانګړي خدمتونه وړاندې کوي.

د کورنۍ سرچينې مرکزونه له والدينو، ماشومانو، تنکيو ځوانانو، نيکونو او نياګانو، ساتونکو، سرپرستانو، يا د کورنۍ يا ټولنې له غړو سره چې له دې کورنۍ سره اړيکه لري کار کوي.


د کورنۍ سرچينې د مرکز کارکوونکي به د کورنۍ د غړو اړتياوې وڅېړي، د کورنۍ سرچينې د مرکز د خدمتونو سپارښتنه به وکړي، او که اړتيا وي مرسته به وکړي چې کورنۍ نورو ټولنيزو خدمتونو ته لاسرسی ومومي.

**د کورنۍ سرچينې په يوه ځانګړي مرکز کې د لاسرسي وړ خدماتو لپاره مهرباني وکړئ د کورنۍ سرچينې له هماغه مرکز سره اړيکه ونيسئ. د کورنۍ سرچينې د مرکزونو د اړيکو معلومات پر www.frcma.org وېبپاڼه موندلی شی.**

# په مساچوسيټس کې د کورنۍ سرچينې مرکزونه

**هغه خدمات چې د کورنۍ سرچينې مرکزونه يې وړاندې کوي**

- د پلارولۍ-مورولۍ د وړتياوو ورکشاپونه
- له يو بل سره د مرستې ډلې
- د نيکونو او نياګانو ډلې
- مالي ورکشاپونه
- د رواني فشار د مديريت ورکشاپونه
- ښوونيز پروګرامونه
- کورنۍ محافل او فعاليتونه
- د لوبو ډلې او د ځوانانو پروګرامونه
- هنرونه، کلتوري او ورزشي محافل
- نورو خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته



**د کورنۍ سرچينې د مرکزونو پتې**

- Amherst
- Athol
- Attleboro
- Barnstable/Hyannis
- Brockton
- Chelsea
- Everett
- Fall River
- Fitchburg
- Framingham
- Gardner
- Great Barrington
- Greenfield
- Holyoke
- Lawrence
- Lowell
- Lower Roxbury
- Lynn
- Nantucket
- New Bedford
- North Adams
- Oak Bluffs/Martha's Vineyard
- Pittsfield
- Plymouth
- Quincy
- Salem
- Southbridge
- Springfield
- Taunton
- Ware
- Westfield
- Worcester

دا ځای به په ۲۰۲۴ کې خلاص وي.

- **Dorchester/Mattapan**

# د کورنۍ سرچينې له مرکز سره څنګه اړيکه ونيسو

د خپلې خوښې کورنۍ سرچينې مرکز ته زنګ ووهئ يا پر هغه پته چې **www.frcma.org** ليکل شوې ده مرکز ته مراجعه وکړئ

تاسې دغه راز کولی د معلوماتو تر لاسه کولو يا د کورنۍ سرچينې يوه مرکز ته د راجع کولو او نورو ګڼو خدمتونو لپاره Mass211 هم کارولی شئ. له Mass211 سره د اړيکې لپاره ۲۱۱ شمېرې ته له خپل تلفون شپه او ورځ يعني ۲۴ ساعته زنګ وهلی شئ، آن د اوونۍ د پای په رخصتيو کې. که ژباړې ته اړتيا ولرئ، هغوی پر شاوخوا ۱۴۰ ژبو خدمات وړاندې کوي.

**د کورنۍ سرچينې په يوه ځانګړي مرکز کې د لاسرسي وړ خدمتونو په اړه د معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د کورنۍ سرچينې له مرکز سره نېغه اړيکه ونيسئ.**

**په خپله سيمه کې د کورنۍ سرچينې د مرکز پيدا کولو لپاره زموږ وېبپاڼې**
**www.frcma.org**
**ته مراجعه وکړئ**

